مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۵/۱۱/۲۵

# ما به څه جنت ته بوځې جاینمازه!

## غزل

چې مې زړه نه وي اوبه له سوز ګدازه
ما به څه جنت ته بوځې جاینمازه!

چې په زړه باندې مې يې او په خوله نه يې
څـه شـوې خـدای تـه د ورتللو پټه رازه!

ای لـه ځـمـکـې تـر اسـمـانـه اوسيليه!
لـه نـاصـوتـه تـر لاهـوت پورې اوازه!

زه بـه څـو يمـه محروم جانان ته وايه؟
سـتـا د سـپـين مخ د ديـدن لـه امتيازه!

مات وزر دی او مړژواندې مې جزبې دي
مـا بـه عـرشه پـورې څنګه وړې پروازه!

چې بچي له لوږې مري مور ستا پنجو کې
تا هغه درد محسوس کړی نه دی بازه!

ګل وطن يې هديره شوه د خدای جنګ کې
د بـاور هيواد کـم نـه دی لـه حـجـازه!



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ